# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د ساده گل سندره


Ursula Nafula
Peris Wachuka
Zahidullah Abid



This work is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.

https://creativecommons.org/licenses/by/4.0



# د ساده گل سندره



Ursula Nafula
Peris Wachuka
Zahidullah Abid


3

پښتو ps

ساده ګل له خپل مور، پلار او څلورکلنې خور سره د یوه شتمن سړي په څمکه کې د لرګیو په یوه جونګړه کې ګډ ژوند کاوه. یاده جونګړه د ونو د کتار په پای کې وه.



شتمن سړی د خپل زوی په بیا لیدو ډېر خوشحاله شو. هغه ته د تسلیت ورکولو له امله یې ساده ګل ته انعام ورکړ. هغه خپل زوی او ساده ګل روغتون ته یوړل تر څو ساده ګل هم بېرته خپل د سترګو نظر ترلاسه کړي.

ساده ګل درې کلن وو چې ناروغ شو، او د سترګو نظر یې له لاسه ورکړ. ساده ګل یو تکړه هلک ؤ.



په همدې وخت کې دوه سړي راغلل، چې یو نفر یې په کټ کې اچولی دی، هغوی پوه شول، چې دا هلک د شتمن سړي زوی دی، ځکه کوم چا له وهلو ډبولو وروسته په سړک کې اچولی و.

ساده ګل ډېری داسې کارونه وکړل چې نورو
شپږ کلنو هلکانو هغه نه دي کړي. د بېلګې په
توګه، هغه وکولی شو چې د کلي د مشرانو
سره ناستې وکړي او په مهمو مسئلو ورسره
خبرې وکړي.



ساده ګل سندره خلاصه کړه او ولاړ. خو یاد
شتمن سړی په هغه پسې په منډه منډه
ورغئ او له هغه یې وغوښتل: “مهرباني
وکړئ! دا سندره بیا وواياست.”

د ساده ګل مور او پلار د شتمن سړي په کور کې کار کاوه. دوی به سهار وختي له کوره وتل او ماښام ناوخته به بیرته کور ته راتلل. ساده ګل به د خپلې کوچنۍ خور سره په کور کې پاتې کېده.



کارګرانو خپل کار کول بند کړل. دوی د ساده ګل ښکلې سندره اورېدې. خو د دوی له ډلې یو سړي وویل: "تر اوسه هیڅوک په دې نه دي توانیدلي چې مشر ته تسلي ورکړي، آیا فکر کوئ چې دا ړوند هلک به هغه ته تسلي ورکړي؟"

ساده ګل له سندرو ویلو سره مینه لرله. یوه
ورځ یې مور ترې وپوښتل;ساده ګله زویه! “دا
سندرې دې له کومه زده کړي دي؟”



ساده ګل د یوې لویې کړکۍ لاندې ودرېد او د
خپلې خوښې سندرې په ویلو یې پیل وکړ.
شتمن سړي ورو ورو د لویې کړکۍ څخه خپل
سر راوویست.

ساده ګل ځواب ورکړ، “موري دا سندرې
لومړی په ذهن کې جوړوم او بیا یې وایم.”



بله ورځ، ساده ګل له خپلې کوچنۍ خور ځخه
وغوښتل چې هغه د شتمن سړي کور ته
بوځي.

ساده ګل به خپلې وړې خور ته سندرې ویل ډېر خوښول، په ځانګړې توګه، کله به یې چې خور ډېره خفه وه. خور به یې د ساده ګل سندرو ته غوږ نیوه او هغه به ورته د خپلې خوښې سندرې ویلې. هغې به سندرو ته په خوند غوږ نیولو.



خو، ساده ګل تسلیم نه شو. د هغه کوچنۍ خور د ساده ګل ملاتړ وکړ. هغې وویل: “د ساده ګل سندرې د لوړې په وخت کې ما ته د ارامۍ احساس راکوي. باور لرم چې د ده سندرې به د شتمن سړي هم ډېرې خوښې شي.”

د ساده ګل خور به له هغه غوښتنه کوله، "چې ساده ګله کولی شئ دا سندره بیا ووایې،"
ساده ګل به د هغې خبره منله او سندره به یې ورته بیا بیا ویله.



ساده ګل خپل مور او پلار ته وویل: "زه کولی شم د هغه لپاره سندرې ووایم. هغه ښایي خوشحاله شي،" خو مور او پلار یې غوښتنه ونه منله. مور او پلار یې ورته وویل، "هغه ډېر شتمن سړی دی. ته یو ړوند هلک یې. ایا ته فکر کوې چې ستا سندرې به له هغه سره مرسته وکړي، او پام به یې غلط شي؟"

یو ماښام، کله یې چې مور او پلار کور ته راغلل، دوی ډېر غلي وو. ساده ګل پوهېده چې حتما کومه خبره شته.



ساده ګل وپوښتل: “څه خبره ده، مورې، پلاره!” ساده ګل پوه شو چې د شتمن سړي زوی لادرکه شوی دی. سړی ډېرغمجن او یوازې ؤ.